د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون

محصلانو چارو معاونيت

د محصلانو دحققو ، استازيتوب او ګډون تګلاره

محصلان د پوهنتون مهمترينه او ملي سرمايه ده او د پوهنتون ځای په تولنه کې تعينوي. د پوهنتون مسؤليت د محصلانو لپاره د سالم زده کړه ييز چاپيريال برابرول او د دوی د حققو ورکول دي.

لرليد:

محصلان به د سالم چاپيريال او حققو د شتون پرينسټ په تولنه کې خپل مناسب ځای تعين کړي.

رسالت:

پوهنتون به محصلانو ته د سالم زده کړه ايز چاپيريال برابرولو او د هغوی د حققو ورکولو ته ژمن وي.

ارزښتونه:

- په اسلامي او فرهنګي چارو کې برخه اخيستنه.
- د ملي او تاريخي ورځو په لمانځ غونډو کې برخه اخيستنه.
- د خپل شخصي حريم ساتنه.
- په ملي مسايلو کې فکري اتحاد لرل.

**لومړی د محصل حقوق:**

أ. د عملي او تيوري زده کړې لپاره زمينه برابرول.

ب. د ظرفيت لوړني ډول ډول پروګرامونو په لاره اچول.

ت. د محصلانو د پيشنهادونو څخه د زده کړې د سيستم په ښه والي کې استفاده کول.

ث. د وړ او مسلکي استادنو په واسطه د محصلانو حقوق تأمينول.

ج. جديد الشمول محصلان د پوهنتون د اصولو سره آشنا کول.

ح. پر وخت باندې د اړوند موضوعاتو په اړه د مقرراتو او قوانينو شفافه رسوونه.

خ. د محصلانو سره صادقانه او صميمي رويه.

د. د رواني صحت او سپورت په برخه کې خدمات وراندې کول ترڅو د محصلانو د رواني او فزيکي صحت ساتنه شوې وي.

ذ. د اصولو مطابق د ليليې او بدل اعاشې امتيازات محصلانو ته ورکول.

ر. د محصلانو امنيت ساتنه.

ز. د کتابتون، انترنېټ او نورو خدماتو زمينه برابرول.

س. د محصلانو د فکري مالکيت څخه حمايت کول.

ش. د محصلانو د پرځان باوري کولو روحيه قوي کول او مثبت فکرونه رامنځته کول.

ص. د نظم، قانونمندی او ټولنيز مسؤليت قبلونې فرهنګ ته وده ورکول.

ض. فرصتونه او امکانات په عادلانه ډول وېشل.

ط. د محصلانو سره عادلانه برخورد او د ظوابطو پر اساس انعطاف پذيري.

ظ. د اصولو مطابق د محصلانو د ادبي، فرهنګي اوعلمي پروګرامونو حمايه.

ع. د نوښتګر، مبتکر او محقق محصلانو د پېژندنې او تقويې لپاره برنامې جوړول.

غ. د مارکيټ د تقاضا پر اساس د تحصيلي رشتو عملي ساحه زياتول.

ف. د زده کړې د برنامو د اصلاح لپاره دوامداره اصلاحات.

ق. د کاري فرصتونو د برابرولو لپاره هڅه او د کاري مهارتونو لوړول.

د محصلانو د مهمو چارو د اسنادو د طی کولو تګلاره

الف - دتاجيل اخيستل:

۱- محصل کولای شي د زده کړه ييزې دورې په اوږدو کې يوازې يو ځل د يوه کال لپاره د سمستر په پيل يا د سمستر له منځنی آزموينې څخه وړاندې ديوې مياشتې په ترڅ کې تاجيل واخلي.

۲- محصل د قناعت ورکوونکو دليلونو پر بنسټ د سمستر په جريان کې د پوهنځی د علمي شورى له تائيد څخه وروسته تاجيل اخلي.

۳- که چېرې د عاجلو پېښو او معقوله عذر له امله د دويم ځل لپاره د تاجيل غوښتنه صورت ومومي په دې زمينه کې د پوهنځی علمي شورى او د پوهنتون علمي شورى تصميم نيسي.

۴- د تاجيل موده د زده کړې په دوره کې د محاسبې وړ نه ده.

**ب ـ د تاجیل رفع کول:**

۱- د اخستل شوي تاجیل د نېټې د بشپړېدو څخه وروسته یعنې د سمستر د شروع څخه مخکې د اخستل شوي تاجیل د اسنادو سره یوځای د محصلانو چارو معاونیت ته مراجعه کول.

۲- د محصلانو چارو معاونیت څخه د بیا شمولیت فورم ترلاسه کول او تر بشپړولو وروسته اړونده پوهنځۍ ته تسلیمول.

**ج ـ تبدیلي اخیستل:**

۱- نوي شامل شوي محصلان له یوه پوهنتون څخه بل پوهنتون ته یا له یوې څانګې څخه بلې څانګې ته تبدیلي نشي ترسره کولی.

۳- د محصلانو تبدیلي په ورځنیو برنامو کې له یوه پوهنتون څخه بل پوهنتون ته د لاندي شرایطو په درلو دلو سره تر سره کیږي.

۱.د کورنی سرپرست نه درلودل.

۲.ناروغي

۳.شخصي دوښمني

د پورته نیو موار دو په درلو دلو سره د لوړو زده کړو وزارت مقام د دولتي محصلانو چاو ریاست ته به عرض کیږي.

**د ـ منفکي اخیستل:**

۱- هغه محصلان چې د کانکور د پایلو له اعلان څخه وروسته د سمستر د پیل د لومړۍ میاشتې تر پای پورې نوم ثبت نه کړي له اړوند پوهنځۍ څخه منفک او توحیدي لیست یې د آزموینې ملي اداري او د محصلانو چارو لوی ریاست ته د سمستر له پای ته رسیدو څخه مخکې لېږل کیږي. دا ډول محصلان د کانکور په راتلونکې آزموینه کې ګډون کولای شي.

۲- هغه محصلان چې د کانکور د پایلو له اعلان او په اړونده پوهنځۍ کې د نوم له ثبت وروسته د لومړني سمستر له آزموینو مخکې د منفکۍ غوښتنه وکړي، منفکي یې له پړاوونو تېرېږي او د کانکور په راتلونکې آزموینه کې د شمولیت حق ترلاسه کوي.

۳- هغه محصلان چې د لومړي سمستر د آزموینو وروسته بیا د تحصیلي دورې تر وروستي سمستر پورې د منفکۍ غوښتنه کوي، منفکي اخیستلای شي مګر بیا د لوړو زده کړو وزارت له لوري د کانکور په ازموینه کې د ګډون حق نه لري.

ذ ـ له منفکې وروسته د محصلانو دوهم ځل شمولیت:

۱- که چېرې محصلان د لومړي سمستر په پیل کې د بېلابېلو دلایلو پر بنسټ نوم ثبت نه کړي او د منفکی لېست يې د آزموينې ملي ادارې او د محصلانو چارو رياست ته لېږل شوی وي، په دې صورت کې چې په راتلونکي کانکور کې يې ګډون نه وي کړی، يو کلن ناکام ګڼل کېږي او په راتلونکي کال کې په هماغه پوهنځی او څانګه کې د زده کړو د دوام حق لري.

۲- هغه محصلان چې د لومړي سمستر د آزموينو وروسته بيا د تحصيلي دورې تر وروستي سمستر پورې د منفکی غوښتنه کوي، منفکي اخيستلای شي مګر بيا د لوړو زده کړو وزارت له لوري د کانکور په آزموينه کې د ګډون حق نه لري او له منفکی څخه وروسته په اړونده پوهنځی کې د دوه يم ځل شموليت حق هم نه لري.

ر ــ ډيپلوم اخيستل:

۱- محصلانو چارو معاونيت اروند فارغانو چارو عمومي مديريت څخه د ډيپلوم اخيستلو فورم ترلاسه کول.

۲- د محصل مکمل شهرت ذکر کول (مطابق د هغه تذکرې چې محصل نوم ليکنه پرې کړې ده، پاسپورت او يا شهادت نامې) او د تذکرې يوه کاپي.

۳- د محصلانو چارو مرستيال احکام اخيستل.

۴- د اړونده پوهنځی رياست ته د تائيدی په موخه مراجعه کول.

۵- د فارغانو چارو عمومي مديريت ته د بيا کتنې او فورم د تائيدی په موخه مراجعه کول.

۶- د اړونده پوهنځی رياست ته د يوې قطعې انځور سره د ډيپلوم د ثبت او تائيدی په موخه مراجعه کول.

۷- د فارغانو چارو عمومي مديريت ته د يوې قطعې انځور سره مراجعه، د ډيپلوم ثبت او تائيدی، او د محصلانو چارو معاونيت څخه د لوړزده کړو وزارت ته د ډيپلوم د تائيدی مکتوب ترلاسه کول.

۸- د ملي ژبې د ډيپلوم قيمت زر(۱۰۰۰) افغانی او د انګليسي ژبې ډيپلوم قيمت زر(۱۰۰۰) افغانی دی چې د دولت حساب ته جمع کېږي.

ز- د مثنی ډيپلوم اخيستل:

۱- يو فارغ التحصيل د قانوني او مؤجه عذر په وړاندې کولو سره د مثنی ډيپلوم اخيستلو مستحق دی.

۲- مثنی ډيپلوم د اصلي ډيپلوم په ډول اعتبار لري.

۳- د مثنی ډیپلوم قیمت دوه زره (۲۰۰۰) افغانی دی.

**س ـ ترانسکرپټ اخیستل:**

۱- محصلانو چارو معاونیت اړوند د فارغانو چارو له عمومي مدیریت د ډیپلو او له اړوند پوهنځي څخه د ترانسکرپټ اخیستلو فورم ترلاسه کول.

۲- د محصل مکمل شهرت ذکر کول (مطابق د هغه تذکرې چې محصل نوم لیکنه پرې کړې ده، پاسپورت او یا شهادت نامې) او د تذکرې یوه کاپي.

۳- د محصلانو چارو د مرستیال احکام اخیستل.

۴- د اړونده پوهنځي ریاست ته د تائیدی او ترانسکرپټ ترلاسه کولو په موخه مراجعه کول.

۵- د نمراتو ترانسکرپټ د فارغانو چارو عمومي مدیریت سره د بیا کتنې او تائیدی په موخه شریکول او وروسته د محصلانو چارو معاونیت څخه د لوړوزده کړو وزارت مقام ته د ترانسکرپټ د تائیدی د مکتوب ترلاسه کول.

۸- د ترانسکرپټ (ملي او انګلیسي ژبې) قیمت زر(۱۰۰۰) افغانی دی چې د دولت حساب ته جمع کیږي.

**د آزموینو په پایله کښې دمحصل رضایت نه درلودل او د پارچې ایستلو تګلاره:**

- که چیرې محصل د سمستر د وروستیو آزموینو په وخت کې د یو یا څو مضامینو په نومرو قناعت ونه لري د پارچې د بیا کتنې د غوښتنې حق لري او پارچه به یې له سره کتل کیږي.
- محصل مکلف دی چې د شقې د اعلان څخه وروسته حد اکثر د دریو ورځو په جریان کې پوهنځي ته خپل عدم قناعت په لیکلې بڼه وړاندې کړي.
- د نوموړي محصل پارچه د پوهنځي د آزموینو د کمیټې له لوري د اړوند مضمون د استاد او نوموړي محصل په شتون کې بیا له سره کتل کیږي.
- په هغه صورت کې چې محصل د څو مضامینو د نومرو په هکله قناعت ونه لري، لومړی یې د یو مضمون پارچه بیا کتل کیږي، په هغه صورت کې چې د دوهمې کتنې نومرې یې د لومړي ځل ورکړل شوو نومرو څخه زیاتې نشي د نورو پاته مضامینو پارچې یې بیا نه کتل کیږي.

**معذرتي امتحان:**

که چېرې محصل د سمستر په بهير کې حاضري بشپړه او د سمستر منځنۍ آزموينې يې تېرې کړې وي او د آزموينې په ورځ له مضمونونو څخه په يوه کې د عاجلو پېښو له امله ونه کړای شي چې حاضر شي او مؤجه اسناد او مدرک يې د آزموينو د کمېټې له لوري تائيد شوي وي، د نوموړي مضمون آزموينه په معذرتي ډول د سمستر د آزموينو په پای کې تېروي او پايله يې په لومړي چانس کې د محاسبې وړ ده.

**دوهمه برخه دتحصيل په دوران کې د محصل رول:**

محصل: هغه شخص دی چې د لېسانس مقررې او زده کړه يېزو لايحو سره سم د لېسانس په کچه يا له هغه څخه پورته، د پوهې او مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره ټاکلی پروګرام تعقيبوي.

محصل د هيواد د ځوان کهول هغه اساسي برخه ده چې د هيواد راتلونکې ټاکي. د ټولنې دا مهم قشر مکلف دی چې له خپلې تحصيلي دورې څخه پوره ګټه واخلي او د محصلانو اړوند ټولو قوانينو، لوايحو او مقرراتو سره ځان عيار کړي. محصل بايد با احساسه و اوسېږي او په پوره استقامت، هوښيارتيا او ځيرکتيا سره خپلې لوړې موخې تعقيب کړي.

الف: د خپل ځان په وړاندې د محصل مسؤليت

هغه عمده غوره کړنې چې يو محصل يې بايد پخپله تحصلي دوره کې رعايت کړي په لاندې ډول سره تشريح کېږي:

**۱- هدف ټاکل:**

په ژوند کې د خلکو موخې يو له بله توپير کوي. د ځينو خلکو موخې يوازې په څو مادي چارو لکه د مال حاصلول، دنيايي جلال او نورو پورې محدودې وي. خو د ځينو انسانانو موخې بيا ډېرې لوړې او لوېې وي. د دا ډول فکر او موخې خاوندان پرله پسې هلې ځلې او کوښښونه کوي چې د يوه رښتيني او باشخصيته مسلمان په توګه د الله تعالی دين، خلکو او هيواد ته په رښتيني خدمت کولو او قربانيو سره يوازې او يوازې د لوی څښتن تعالی د رضا او د هغې دنيا نېکمرغې پرې ترلاسه کړي. دغسې خلک نه د شتمنۍ او امتياز پروا لري او نه شهرت او جاه و جلال غواړي. دا ډول خلک تيټتيا، کوچنيو کارونو او بې همتۍ ته هيڅکله تن نه ورکوي او بېله شکه چې همداسې کسانو ته بيا الله تعالی د دواړو جهانو نېکمرغي وړ په برخه کوي.

لکه څنګه چې پورته يادوونه وشوه، محصل د ټولنې د يو با مسؤليته ځوان په حيث بايد لوړې او لوېې معنوي موخې ولري. هدف ټاکل د محصل د ژوند او تحصلي دورې يو تر ټولو مهم ټکی دی چې د محصل د فکري تمرکز سبب ګرځي. هدف ټاکل محصل ته

په زده کړه يېزو چارو کې جديت او انرژي وربخښي او د محصل ارادې کلکوي. هدف ټاکل د محصل سره مرسته کوي ترڅو په تحصيلي چاپېريال کې ټول ضرورتونه او چانسونه په اسانی سره په ښه کړي. باالاخره هدف ټاکل د محصل د ټولو زده کړه يېزو چارو د ښه نظم او مديريت باعث کېږي.

**۲- د وخت مدیریت:**

یواځینی شی چې ډېر کم وګړي د هغه په اهمیت پوهېږي وخت دی، وخت داسې ځانګړی قیمتي ځیز دی چې د چا انتظار نه کوي، که در څخه تېر شو بېرته نه راګرځي، هره ثانیه چې زموږ د عمر تېرېږي دا وخت دی، که ترې ګټه پوره کړې نو کامیاب او که بې ځایه در څخه تېر شو نو بیا به یې ارمان کوې.

د وخت د ارزښت په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لاندې مبارکو احادیثو څخه یاددونه کوو:

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه وایي؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم یو سړي ته نصیحت کاوه ورته یې وفرمایل: پنځه شیان د پنځو شیانو څخه وړاندې غنیمت وګڼه: ځواني مخکې له بوډاتوب څخه، صحت مخکې له بېماری څخه، شتمني مخکې له فقر څخه، بېکاري مخکې له مشغولتیا څخه او ژوند مخکې له مرګ څخه. همدارنګه په یو بل حدیث کې چې د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی؛ وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: دوه نعمتونه چې ډېر خلک پکې تېر وتلي دي یو صحت دی او بل فراغت او وزګارتیا ده. له دې حدیث څخه دا جوتېږي چې وخت ډېر لوی نعمت دی، او پکار ده چې په دې نعمت شکر وباسو او شکر یې دا دی چې ور څخه په مناسب ډول استفاده وکړو او هسې په لهو او لعب کې یې تېر نکړو.

د تحصیلي دورې ټول فعالیتونه د وخت منظم مدیریت ته اړتیا لري. تحصیلي دوره هم لکه د ژوند نورې برخې یوه ژر تېرېدونکې دوره ده؛ له دغه موقع څخه باید په پوره توګه استفاده وشي. تحصیلي دوره باید په داسې منظمه توګه مدیریت شي چې د تحصیلي ډګر ټول فرصتونه او چوپړتیاوې د محصل له لاسه ونه وځي.

د تحصیلي دورې د وخت د ښه مدیریت او مناسب مهالوېش د ترتیب لپاره باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:

- په جماعت سره د پنځه وخته لمانځه کلکه پابندي.
- په مناسب وخت ویده کیدل او له خوبه پاځېدل.
- د خوراک او څښاک منظمول.
- دیني چارو ته وخت ورکول (د قرانکریم تفسیر، ترجمه، حفظ او تجوید، او همدارنګه احادیثو او نورو ته).
- د مطالعې او کتابتون لپاره وخت.
- د بهرنیو ژبو او کمپیوټر زده کړو لپاره وخت.
- د کورنۍ دندې او پروژو د اجرا لپاره وخت.
- د ګټورو ټولنیزو فعالیتونو لپاره وخت.
- تفریح او سپورتي چارو ته وخت.

**۳- مطالعه:**

مطالعه د محصل اساسي موخو ته د رسيدو ترټولو لومړنی او مهم اصل دی. د مطالعې سره علاقه پيدا کول اول ګام دی. محصل بايد د مطالعه لپاره د نورو ټولو فعاليتونو په نسبت زيات وخت په مهالوېش کې ځانګړی کړي. مطالعه ده چې د محصل ذهن پراخوي او همدارنګه برياوو او اساسي موخو ته په رسيدو کې اساسي رول لري.

**۴- ځيرکتيا، انګيزه او اکتسابي تلوسه:**

تلوسه د هر ډول لاسته راوړني پيلامه ده؛ محصل ته اړينه ده چې د پوهنيزو اهدافو په لاسته راوړلو کې تلوسه ولري، د نوو موادو په زده کړه کې حريص وي، پوښتنې وکړي او معلومات راټول کړي.

پورته د هدف ټاکلو د اهميت په هکله بحث ترسره شو. پدې کې هيڅ شک نشته چې هدف ټاکل او هدف لرل اساس دی. مګر حقيقت دا دی، چې يوازې ښه او لوړ هدف په مخ کې اېښوول بسنه نه کوي، بلکې د هدف ترلاسه کول انګېزه، زيار، کړاوونه ګالل، او سرښندنه هم غواړي.

انګېزه لرل د برياليتوب يو راز دی، ځکه همدا انګېزه ده، چې په مونږ کې د کار کولو او زيار اېستلو احساس پيدا کوي. مونږ په خپل ژوند کې ډېر د داسې حالاتو سره مخ کېږو، چې له کبله يې مونږ کومه لېوالتيا لرو له لاسه ورکوو او منفي فکرونه مو ذهن ته راځي، چې وروسته خپلو ټولو کړو وړو ته په ټيټ نظر ګورو او ښه احساس بايلو. په دې ډول ښه احساس بايلل او د منفي فکرونو لرل په ځوانانو کې ډېر ليدل کېږي. په داسې حالاتو کې ځوان محصل بايد د اسلام مقدس دين ارشاداتو ته مراجعه وکړي، د لوړ شخصيت لرونکو انسانانو تجربې، نظرې او کتابونه ولولي. خپلو ټولو کړو وړو ته د هغوی په ژوند کې وګوري چې د تجربې کمښت يې وپنځېږي. له دې سره سره دې د خپل ذهن د کنترولولو هنر هم زده کړي او په خپلو کارونو کې دې جدي واوسي ځکه د ځوانی عمر د انسان د ژوند معيار ټاکي.

محصل بايد خورا ځيرک و اوسي او د خپل شخصيت او ظرفيت په لوړولو، او د دنيا او آخرت د نېکمرغۍ په لاسته راوړلو کې ټل هڅاند او حريص وي.

**۵- ظرفيت لوړونه:**

د بريالي محصل يوه مهمه ځانګړنه داده چې هغه د خپل کريکولوم له مضامينو او موضوعاتو سربېره په نورو مختلفو اړينو برخو کې د خپلې ورتيا د لوړولو لپاره کار کوي. اسلامي اړينې زده کړي، دکمپيوټر مختلف مهم پروګرامونه، انټرنېټ، انګلېسي او نورې مهمې نړيوالې ژبې، د ځېړنو اصول زده کول او نور هنري او ټولنيزو فنونو ته وده ورکول په دې برخه کې د يادوونې وړ دي.

**دريمه برخه د محصل مسؤليتونه**

**أ. د محصل ټولنيز مسؤليتونه:**

د دې لپاره چې په ټولنه کې د محصلانو د مسوليتونو په اړه لا ښه وپوهېږو، لومړی بايد په دې پوه شو چې ټولنه څه ته وايي؟ انساني ژوند د ښو چارو د سمبالولو سيمه ده، چې بېلابېل انسانان پکې ژوند کوي او دغو خلکو ته د ټولنې وګړي وايي، چې د

وګړو له يو ځاى كېدو څخه ټولنه را منځته كېږي.

په يوه ټولنه كې كه هغه ډېره عادي هم وي يا ډېره پرمخ تللې وي درى ډوله انسانان ژوند كوو؛ يوه برخه يې ماشومان، دويمه برخه يې ځوانان او دريمه برخه يې مشران دي. ځوانان د ټولنې هغه بريمن ځواک دى چې كولاى شي په مختلفو پړاونو كې شهكاريانې ولري، مثبت بدلونونه منځ ته راوړي او د هبواد د جوړولو په ټولو اړخونو كې فعاله ونډه ولري. ټولنيزې اړيكې د بشري ژوند يوه مهمه اړتيا ده. محصل بايد يو بانظمه ټولنيز شخص وي او د يو باسواده مسؤل ځوان په توګه د مسلک او مسؤليت اړوند چارو كې بوخت و اوسي. ځينې هغه عمده موضوعات چې د محصل ټولنيز مسؤليتونو ته يې اشاره كړې په لاندې ډول ذكر كوو:

- په اسلامي او ملي ارزښتونو ولاړې؛ پرته له هر ډول تبعيض څخه په ټولنه كې د ټولو قشرونو سره د اړيكو پالل.
- د ټولنې د هغو زيدخل اورګانونو سره چې د محصل د مسلكي ربښتې سره سمون لري د پوهې او تجربو لاسته راوړلو په پار اړيكې جوړول.
- په اسلامي او فرهنګي چارو كې برخه اخيستنه.
- د ملي او تاريخي ورځو په لمانځ غونډو كې برخه اخيستنه.
- په ملي مسايلو كې فكري اتحاد لرل.

ب. د پوهنتون پروړاندې د محصل مسؤليتونه

د غوره او مؤثر تحصيلي ژوند لپاره بايد محصل تل دا فكر ولري چې د پوهنتون له آسانتياؤ څخه ځنګه سالمه استفاده وكړي.

لاندې د هغه نقاطو څخه په اجمالي ډول يادوونه كوو چې محصل يې د پوهنتون په وړاندې مسؤليت لري:

- خپل زده كړه ييز كور (پوهنتون) ته پوره درناوى او احترام لرل.
- د لوړو زده كړو وزارت او پوهنتون د ټولو قوانينو، لوايحو او مقرراتو رعايتول او ورته ژمنتيا.
- د بې مورده او غير قانوني مجالسو او د حزبي، سمتي او ژبنيو فعاليتونو څخه په كلكه ځان ساتل.
- د اسلامي وروروليي او متقابل احترام په اساس له نورو محصلينو سره اړيكې ساتل.
- د پوهې د لاسته راوړلو او انتقال صميمانه چاپېريال رامنځ ته كول او د پوهنتون د علمي او اداري كاركوونكو پوره احترام ساتل.

د محصلا نو د حققو، استازيتوب او ګډون تګلاره د محصلانو کمېټي د (۱)ګنه پروتوکول او ۱۴۰۴/۷/۲۰ نېټه کې ثبت او د تائيد ور وګرځېده.

الحاج مولوي محمو دالحسن(حسن)

دمحصلانو کمېټي مسؤل

لاسليک ---------------------

د محصلا نو د حققو، استازيتوب او ګډون تګلاره د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون دعلمي شورا په ( ۸ ) ګنه پروتوکول او ( ۱۴۰۴ / ۹ / ۱۲ ) ثبت او تائيد دی.

لاسليک ---------------------

**د پوهنتون د رئيس لاسليک**